مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۲/۱۰/۰۳

# پس له مرګه

په دې ورانـــو میـــکدو کې ، یا به یمــــــه یا به نه یم
د مالت په دې کــــوښـــو کې، یا به یمـــه یا به نه یم

زماني هسی تیریږي ، خــــدای خـــبر د چـــا به یاد یم
د دردمـــنو خـــاطرو کــــــې، یا به یمــه یا به نه یـــــم

د دنیا په باغ و بڼ کې د مرغـــــــانو به چغــــهار وي
بلبــــلانـــــو ترانــــو کې ، یا به یمــــــه یا به نه یم

چا به یاد یم که به نه یم ، په دې شــــاړو مــــیرو کې
په دې ورانـــــو ویرانـــو کې ،یا به یمـــــه یا به نه یم

د بهار به ښي میلي وي،ســـره غـــونډ به وي ملګري
د یارانــــــو محـــــفلو کــــــې یا به یمــه ، یا به نه یم

چیرته ښخ به خوار و زاره ، په پرَدي ملکو کې پروت یم
په دې ورانـــو ادیرو کــــــې، یا به یمـــــــه یا به نه یم

---

د بابرزیٔ د دې شعر په پیروی:

دې نژدې ـ نژدې ملکو کې، یا به یمه یا به نه یم
ستـا د کلي په کـوڅـو کې ، یا به یمه، یا به نه یم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ